

ښاغلي / میرمن

تاسو نن د امیګریشن او انټیګریشن په فرانسوي دفتر (او ایف آئي آئي) کې د جمهوري انټیګریشن معاهده (سي آئي آر) لاسلیک کولو په لړ کې موجود یئ.

دغه رنګ، تاسو د دې خبرې اقرار هم کوئ چې تاسو په فرانس کې، چې ستاسو کوربه هیواد دې، د اوږدې مودې لپاره ځان میشته کول غواړئ او د انټیګریشن په یو شخصي یونلور تګ غواړئ.

د دې معاهدې په چوکاټ کې، تاسو د خپلو حقونو څخه ګټه ترلاسه کولای شئ، خو تاسو باید د قانون احترام وکړئ او خپل فرائض هم سر ته اورسوئ.

☐ **د جمهوري انټیګریشن د شخصي یونلور ژمنه**

د نن ورځ د دې شخصي ملاقات مقصد او مرام دا دې چې ستاسو د حاجتونو او ضرورتونو ارزونه وشي، چې تاسو ته ډول ډول د تعلیم او تربیه کورسونه تجویز کړې شي، او ستاسو د شخصي حالت په رڼا کې ستاسو لارښوونه وشي.

- **مدني تعلیم او تربیه**

ستاسو یونلور د دوه ورځني اجباري مدني تعلیم تربیه څخه پیل کیږي.

- **د ژبې تعلیم تربیه**

کۀ چرې ستاسو د ژبې لیول د "ژبو په حواله د عام اروپایي چوکاټ (سي اي سي آر ایل)" د "اې 1" لیول نه ښکته وي، نو د دغه لیول ترلاسه کولو لپاره تاسو باید د ژبې زده کړه پیل کړئ. چې کله تاسو فرانسوي ژبه زده کړئ، نو دا به تاسو لپاره په روځني ژوند کې د خبرو اترو کولو کې ډیر ګټور ثابت شي.

- **معلومات**

تاسو د خپلو حقونو او د عمومي خدمتونو (د مثال په توګه مکتبونه، روغتونونه، ټولنیز تحفظ...) په اړه د معلوماتو څخه هم ګټور کیدای شئ.

☐ **د "سي آئي ار" درناوې کول، د ډیر کلیزه استوګنې د کارت د ترلاسه کولو لپاره شرط دې.**

د "سي آئي آر" په لاسلیک کولو سره تاسو د دې خبرې ژمنه کوئ چې تاسو به په ډیر زیار سره او په جدي توګه د مدني او د ژبې تعلیم تربیه سرته رسوئ.

تاسو د فرانسوي ټولنې او فرانسوي دولت د اساسي ارزښتونو/ اقدارو د احترام کولو مسول هم یئ.

کۀ چرې تاسو د دې شرطونو درناوې کوئ، نو بیا به تاسو ته د ډیر کلیزه استوګنې کارت درکړې کیږي.

☐ **یونلور ته دوام، او د استوګنې د کارت ورکړه**

تاسو د خپل جمهوري انټیګریشن شخصي یونلورته د فرانسوي ژبې د زده کړې په واسطه دوام ورکولای شئ.

کۀ چرې تاسو د استوګنې کارت ترلاسه کول غواړئ، نو تاسو باید د "سي اي سي آر ایل" د ژبې لیول "اې2" ترلاسه کړئ.

تاسو باید د فرانسوي دولت د اصولونو په اغیزمنه توګه درناوې هم وکړئ.

کۀ چرې تاسو د جمهوري انټیګریشن د ټولو شرطونو درناوې کوئ، نو بیا به د استوګنې کارت تاسو ته درکړې کیږي.

**د 4 اکتوبر کال 1958 د فرانسوي اساسي قانون آرټیکل 1 :**
**" فرانس یو سیکولر، دیموکراتیک، ټولنیز او نۀ بیلیدونکې جمهوري هیواد دې. دا هیواد پرته د اصل، نسل، نژاد او مذهبي توپیر، د قانون وړاندې د ټولو وګړو برابري باوري کوي، او د ټولو عقیدو درناوې کوي، او د دې هیواد جوړښت غیر مرکزي دې.**
**د فرانس قانون ټولو ښځو او سړو ته د انتخابي دفترونو او انتخابي دندو ته یو شان لاسرسي باروي کوي، او دې سره سره ټولنیزو او مسلکي مسوولیتونو ته هم."**

**د جمهوري انټيګريشن معاهده**

د جمهوري انټيګريشن دا معاهده، چي د بهرنيانو د داخلي او د استوګني او د پناه د قانون په آرټيکل ايل 9-311 کي تشريح شوې ده، ستاسو او د فرانسوي دولت، چي پريفکټ يې نمائندګي کوي، ترمنځ لاسليک شوه. دا معاهده د دوه اړخيزه ژمنو په بنسټ ولاړه ده.

**1. د فرانسوي دولت ژمني**

فرانسوي دولت د هرکلي يو پيکج تنظيموي چي ستاسو ټولنيز انټيګريشن په مخ بوځي. په دې پيکج کي دا لاندې ذکر شوي خدمتونه شامل دي :

- د "او ايف آئي آئي" يو کارکونکي سره شخصي ملاقات چي ستاسو د حاجتونو او ضرورتونو ارزونه وشي، چي تاسو ته ډول ډول د تعليم او تربيه کورسونه تجويز کړي شي، او ستاسو د شخصي حالت په رڼا کي ستاسو لارښوونه وشي؛
- يو مدني تعليم تربيه کورس، چي دوه ماډيولونه لري:
  - د فرانسوي جمهوري دولت اصولونه او ارزښتونه؛
  - په فرانس کي اوسيدل او روزګار ته لاسرسي؛
- په فرانسوي ژبه کي ستاسو د ليول معلومولو لپاره، د "او ايف آئي آئي" په دفتر کي د فرانسوي ژبي يو ازموينه؛
- د اړتيا په صورت کي، د "ای1" ليول پوري د ژبي زده کړه، چي د دغه تربيه ضروتونه او وختونه د "سي اي سي ار ايل" له اړخه تشريح شوي دي.

**2. ستاسو ژمني**

- د فرانسوي جمهوري دولت او د فرانسوي ټولني د اساسي ارزښتونو درناوي کول؛
- د مدني تعليم تربيه، او د ژبي د تعليم تربيه په دواړو ماډيولونو کي په ډير زيار او جدي توګه برخه اخيستل؛
- د "او ايف آئي آئي" په دفتر کي د ملاقات په ترڅ کي تجويز کړي شوي کړنلاري سر ته رسول:؛
- په حالت کي د بدلون څخه "او ايف آئي آئي" د يو خط په واسطه خبرول.

**3. د معاهدي موده**

د "سي آئي آر" دا معاهده د يو کال لپاره لاسليک کړي شوې ده. په استثنايي توګه، او د قانوني وجو په بنياد، دا معاهده د يو کال اضافي مودي پوري د پريفيکت له اړخه غځول کيداى شي.

کهٔ چيري تاسو د فرانسوي دولت او ټولني اساسي ارزښتونو څخه سرغړونه کړي وي، او يا، د زيار او جدي توب شرطونه مو برابر کړي نهٔ وي، نو دا معاهده د "او ايف آئي آئي" په تجويز سره د پريفيکت له اړخه ماتول کيداى شي.

**ستاسو شخصي لارښوونه**

د نن ورځي د ملاقات په پاى کي، تاسو ته دا لاندې ذکر شوي تجويز کړي کيږي :

- **مدني تعليم تربيه " فرانسوي جمهوري دولت اصولونه او ارزښتونه "**
  - ☐ لازمي / اجباري
- **مدني تعليم تربيه " په فرانس کي اوسيدل او روزګار ته لاسرسي"**
  - ☐ لازمي / اجباري
- **د ژبي تعليم تربيه**
  - ☐ چي ليول "ای1" يئ ترلاسه کړي وي ( د ژبي تعليم تربيه معاف)
  - ☐ چي ليول "ای1" يئ نهٔ وي ترلاسه کړي ( د هغو لپاره د .......... ساعتونو د ژبي تعليم تربيه د يونلور تجويز)

دې سره سره، تاسو د لاندې ذکر شوي خدمتونو وړانديز هم کيږي :

"سي آئي آر" ستاسو لپاره په فرانس کي د انټيګريشن د يونلور لومړې قدم دې. تاسو بايد د حقوقو او فرائضو درناوې اوکړئ. په فرانس کي ستاسو د کامياب انټيګريشن لپاره دا معاهده يو ضمانت دې.

**د جمهوري انټيګريشن د معاهدې شميره..........**

دا معاهده د لاندې ذکر شوو تر منځ لاسليک شوه:

ښاغلي/ميرمن (د ماشومانو لپاره، د هغوي قانوني استازې/نمائنده) :

د "ای جي ډي آر اي ايف" شميره :.......

لاسليک :.........................

او د پريفيکټ:.........................

د معاهدې د غځوني په صورت کي (موده، د پاى نيټه، غرض او مقصد) :

د کمپوټر، فائلونو او ازاديو په اړه، د 6 جنوري کال 1978 قانون نمبر 17-78 په دې معاهده تطبيق کيږي. د دې قانون لاندې، د اميګريشن او انټيګريشن فرانسوي دفتر (او ايف آئي آئي) کي، تاسو خپلي ډيټا ته د لاسرسي او د تصحيح حق لرئ.